# مشر او مشرتوب

ليک:

مرحوم آيت الله سيدعبدالله شيرازي

بسم الله الرحمن الرحيم

# مشر او مشرتوب

لیک:
مرحوم آیت الله سیدعبدالله شیرازي

د کتاب مشخصات:
د کتاب نوم: مشر او مشرتوب
لیکوال: مرحوم آیت الله سید عبدالله شیرازي
د چاپ کال: ۱۳۹۰ لمریز
د چاپ وار: لومړی
شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

## د واقعیاتو څېړنه او بیا پېژندنه

۱- په ټولو څېړونو کې موخې ته د ورسېدو او د بریا آریز شرط، آګاهي او پېژندنه ده. پېژندنه، انسان په پټو سترګو له تګه، بې لارویو او ښوییدو ژغوري، سمه لار ورښیي او په ټینګو ګامونو یې موخې ته رسوي.

د پېژندنې مساله، لکه د هغې بلې ډیوې ده، چې یو تن په تپه تیاره او کنډو کپر بېدیا کې روان وي او ناوونه، درې، غرونه، لوړې ژورې، اغزي، ډنډونه او ځاګانې یې په لار کې وي؛ خو که دا ډیوه ورسره نه وي؛ نو خپل مطلب ته نشي رسېدای.

بشریت په تېره مسلمانانو له ناپوهۍ خوار ګوذارونه خوړلي او همدا اوس یې هم خوري، ځومره ډېر انسانان شته چې د ناپوهۍ له امله په ګروهیزې-عقیدتي بې لارۍ کې پراته دي او کړنې یې انحرافي او پایله یې بدمرغي ده. د ناپوهۍ له امله ډېر انسانان د ښکېلاک، استبداد،

زيبښاک په جالونو کې راګير دي او په دې لار کې څومره عالي انساني امتيازات له لاسه وتلي دي.

هر څوک پېژنه په يوه ډول مانا کوي؛ خو هر اړخيزه مانا يې دا ده چې: واقعيتونه لکه چې څنګه دي، ويې پېژنو او دا پېژنه ډېرى په مطالعې، څېړنې، ژوند، فکر کولو، عمل، تجربې او اخلاص ترلاسه کېږي.له خدايه د پيغمبر غوښتنه، د قرآن په انسان ساز کتاب کې د پوهې او ليد راکړه ښوول شوې ده:

وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا(طه/۱۱۴): (( پالونکيه ! پوهه مې زياته کړې))

او په سنتو کې، دا دعا راغلې:

"اللهم ارنا الحقايق كما هي؛ خدايه! حقايق لکه چې څنګه دي هماغسې يې راوښيې". (۱)

کوم ملت، چې له سياسي، فرهنګي، اقتصادي، اخلاقي او نورو اړخونو له کبله يې خپل ژوند پېژندلی نه دی؛ نو په اسانۍ د ښکېلاک او زيبښاک ښکار شوی او د ضد بشري

ښوونځیو په لومو کې دی. امام باقر(رح) د کمال پوره درجه (چې د پیدایښت موخه ده) داسې بیانوي: "اکمال کل الکمال، التفقه فی الدین، و الصبر علی النائبة و تقدیر المعیشته". (۲)

پوره کمال پر دریو ستنو ولاړ دی، چې لومړۍ ستنه یې "دین پیژندنه" ده. د امام صادق (رح) وینا ده: که قاضي بې له پیژندنې په حق یا باطل قضاوت- ورمندون وکړي؛ نو دوزخي دی. (۳)

رسول اکرم (ص) وویل:

هر څیز یو بنسټ او بیخ بنا لري او د اسلام بیخ بنا پیژندنه ده، شیطان ته یو باخبره عالم تر زرګونو عابدانو خورا خطرناک دی. (٤)

ولې موږ سید جمال الدین افغاني ډېر ستایوو؛ ځکه په مسایلو کې یې پیژندګلوي درلوده او عملاً د پیژندنې له مخې د واقعیتونو په لټه کې و، د شمعې په څېر سوځېده، چې خپل چاپېریال رڼا کړي.

مصري شیخ محمد عبده، په یوه لیک کې سید جمال الدین افغاني ته لیکي: "ستا له لارې موږ خپل ځانونه وپېژندل او ته مو هم وپېژندې او گرده نړۍ مو وپېژنده". (۵)

پام مو وي، چې څوک لوستی وي او پوهه لري؛ نو دا یې دلیل نشي کېدای، چې د لید او پېژندنه څښتن به وي، موږ په خپله ټولنه کې لوستي لرو؛ خو ځینو چارو (لکه لویدیځ پالۍ، دروغجن غرور، ملي، سیمه ییزو، ژبنیو او گوندي تعصبونه او استعماري فرهنگ او....) له سمې پېژندنې او لیده بې لارې کړي دي.
سمه پېژندنه؛ یعنې پرانستی فکر او انسان هله د پرانستي فکر خاوند کېږي، چې د ودې له لاملونو (لکه مطالعې، حقیقت لیدنې، د چاپېریال له انگړه د فکر الوت، له جاهلي دودونو شا گرځول او له ازاد اندنې) برخمن وي او د فکري رکود له عواملو (لکه استعماري فرهنگ، بې

ځایه تقلید، پټونې، سانسور، بې ځایه مذهبي، ملي، ګوندي تعصبونو او په دروغو تېر ایستلو) لرې وي.

۲- د مشرۍ ونډه او پېژندل یې

د دې لیکنې چورلیزه وبینه، د امت د امام او امامت سمه پېژندنه ده، چې د حق امامان د باطلو له امامانو سره علمي او عملي پرتله شوي، چې پرتله کول د پېژندنې یو لار ده، دغسې دا پېژندنه مو د نبي کریم د دې حدیث له مخې ده: "چې څوک ومري؛ خو د خپلې زمانې امام یې نه وي پېژندلی؛ نو مړینه به یې د جاهلیت مړینه وي" یعنې د جاهلیت د زمانې د خلکو په څېر به، بې معرفته او بې دینه له نړۍ تللی وي او پر تندي به یې د جاهلیت تور داغ لګېدلی وي.

له دې حدیثه دوه مطلبه په لاس راځي:

۱) په هرې زمانې کې ټولنې ته د مشر اړتیا او لزوم.

۲) د رښتینو مشرانو پېژندنه.

پایله داچې، که په ټولنه کې مشر نه وي او یا حق امام له باطل امامه ونه پېژنو؛ نو ژوند مو د جاهلي ژوند په څېر پای ته رسي، چې د دنیا او آخرت ننګ به راپرغاړه وي.

پردې حدیث د پوهېدو لپاره، اړین دي چې د مشرتوب په اړه، د امام شرایط او د امام د ونډې په باب یوه لنډه څېړنه وکړو.

امامت او مشرتوب بشر ته یو خورا ستر منصب دی او له همدې امله مسوولیت یې هم درووند دی، چې له ډېرو وړتیاوو او عملي ثبوتونو روسته ترلاسه کېږي.

امام صادق (رح) وویل: ابراهیم علیه السلام تر بنده ګۍ، نبوت، رسالت او دوستۍ (خلت) روسته امامت ته ورسېد. (٦)

او د بقرې سورت د ١٢٤ آیت (٧) له مخې، د امامت مقام یوه الهي ژمنه ده او په انسان کې د یو لړ وړتیاوو تر رابرسېره کېدو روسته ورکول کېږي او ښېخي (په پراخې مانا) ظالم ته نه ورکول کېږي او د خدای له لوري ورپېرزو

کيږي، چې په ګردو ظواهرو او باطنو باخبر دی؛ نو امامت له الهي ځانګړو لورونو څنې دی، چې ځانګړو وګړیو ته ورکول کيږي او زموږ له نظره امامت یا په بله وینا د امام ونډه دا ده چې:

امامت د دیني برنامو عملي کول دي، که په پراخه مانا، حکومتي برنامه او د الهي حدودو پلي کول وي او هم که په ظاهر او باطن کې د خلکو پالل او تهذیبول وي.

نو ځکه زموږ په لید کې حق امام، د خدای له لوري نصب شوی دی او تر وسې وسې په ټولو اړخونو کې د اسلام د برنامو عملي کوونکی دی.

ومو ویل: انسان تر وړتیاوو روسته دې مقام ته رسي، چې د "معصوم او "عالم په کلمو، حق امام له باطل امام څخه جلا کولای شو.

پایله داچې: د پورته لیکنې له مخې او هم د "من مات ولم...حدیث ته په پاملرنې موږ هله انساني او اسلامي آرماني ژوند ته رسېدای شو او د جاهلیت له تپو تیارو

راوتای شو، چې د امامت د سمې مانا تر پوهېدو روسته، خپل حق امام (معصوم او عالم) وپېژنو او ورپسې ولاړ شو.

یادابنتونه

۱) غوالي اللالی ۳: ۱۳۲، حدیث: ۲۲۸.

۲) الاصول من الکافي ۱: ۳۲ حدیث: ٤ . دعائم الاسلام ۲: ۲۵۵ . تحف العقول: ٤۰۱، حدیث: ۳ . مستدرک الوسایل ۱۳: ۵۳ مخ، حدیث: ۱۲.

۳) د دې حدیث د پوره متن لپار وګورئ:

الفروع من الکافي ۷: ٤۰۷ مخ، حدیث: ۱ . الفقیه ٤: ۳، حدیث: ٦ . التهذیب ٦: ۲۱۸، حدیث ۵ . وسائل الثیعه ۱۸: ۱۱، حدیث: ٤.

٤) کنزالعمال ۱۰: ۱۵ حدیث: ۲۸۷٦۸، میزان الحکمه ٤: ۲٤۵٤ د اهل سنتو له لارې دا حدیث په دې تعبیر راغلی دی چې:

"لکل شئ عماد و عماد هذا الدین الفقه" نهج الفصاصه: ٤٤۷ مخ، حدیث: ۲۲٦۰.

۵) د سید جمال الدین افغاني په اړه د ناچاپه اسنادو ټولګه، ۱۳٤ تصویر.

٦) بحار الانوار ۵: ۱۱٤.

۷) د بقرې ۱۲٤ آيت: ۱۱.

# من مات ولم یعرف امام زمانه میتة جاهلیه

چې څوک ومري او د خپلې زمانې امام یې پیژندلی نه وي؛ نو په جاهلي مړینه مړ شوی دی.

وګورئ:

امام احمد حنبل سند ٤: ٩٦مخ.

مجمع الزوائد ٥: ٢١٨ او ٢٢٥ مخونه.

ابی داود طیالیسی سند: ٢٥٩ مخ.

المعیار والموازنة: ٣٢١ مخ.

الامامة والتبصرة: ١٥٢ مخ.

کمال الدین و تمام النعمة: ٤٠٩ مخ.

کفایة الاثر: ٢٩٦مخ.

وسایل الشیعه ١١: ٤٩١مخ.

مناقب آل ابی طالب ٤: ١٨مخ.

# د ځانګړي امام ورتیا او شرایط

عقل، وجدان او انصاف راښیي، چې په هره زمانه کې د امام او مشر(۱) شتون ته اړتیا ده، چې د امت توکیزې- مادي او مانیزې-؟ معنوي چارې په بېلا بېلو سیاسي، اقتصادي، احکامو، دیات او..... رهبري کړي او همدغسې په داسې یوه علمي کچه کې وي، چې په وینو او څېړنو کې پر نورو ادیانو د اسلام غوراوی او حقانیت زباد کړي او هر ډول بې بنسټه مرامونه د سول- منطق او دلیل له مخې رد کړي.

د مشرتوب په مساله کې، باید لټه وکړو، چې تر رسول اکرم روسته څوک د مشرۍ وړ و؟ چې د پلټنې په ترخ کې، وینو چې یوازې حضرت علي (ک) دې مقام ته مناسب و؛ ځکه له علمي پلوه په ټولو اصحابو کې پوه و، چې په اړه یې رسول اکرم وایي: "انا مدنیة العلم و علی بابها، فمن اراد الحکمة والعلم فلیاتها من بابها؛ زه د علم

ښار يم او علي يې ور دی؛ نو څوک چې حکمت او علم غواړي له وره دې يې ورننوځي". (۲)

"علي اقضاکم؛ علي په تاسې کې تر ټولو ښه قضاوت کوي" (۳)

په خپله حضرت علي (ک) وايي:

"سلوني قبل ان تفقدونی فانی اعرف بطرق السمامن طرق الارض؛ مخکې تر دې چې له تاسې ولاړ شم، ومې پوښتئ؛ ځکه زه د ځمکې تر لارو، د اسمانونو لارې ښې پېژنم" (٤)

او دويم خليفه (رض) يې په اړه وايي:

"لولا علي لهلک عمر؛ که علي نه وای، عمر هلاکيده" (۵)

"لا ابقانی الله لمغضلة پس فيها ابوالحسن؛ خدای مې دې پر هغه ستونزه کې نه راګېروي، چې ابوالحسن هلته نه وي" (٦)

همدغسې علي تر ټولو اصحابو مېړنی او په نسب او سبب کې تر ګردو، رسول اکرم (ص) ته ور نژدې و. (۷)

او بې د عمر له اړخه، په نورو ټولو اړخونو کې علي د مشرۍ جوګه و او عمر د امامت، سیاسي او دیني مشرۍ په مساله کې څه دخالت نه لري او دلیل مو دا دی، چې نبي کریم (ص) د تبوک په جګړه کې اسامه بن زید (رض) د هغه لښکر قوماندان او امیر کړ، چې مشران اصحاب پکې وو.

تر دې مهم خو د پیغمبرۍ مقام دی، چې خدای پاک په ورکتوب کې ځینو پیغمبرانو لکه حضرت عیسی (ع) او حضرت یحیی (ع) ته ور ډالۍ کړ. (۸)

پایله داچې پر نقلي دلایلو سربېره، عقل راته وایي، چې باید د امت امام، علي وي او د مشرۍ جامې یوازې د همدې پر تن سمې دي، نو ځکه خلیل بن احمد وایي: "ټول خلک علي ته اړ دي او علي تر ټولو خلکو مړه خوا دی؛ نو د همدې دلیل له مخې د ټولو امام دی." (۹)

*** د امت اجماع**

که فرضاً دا حدیث سم وي، چې له رسول اکرم یې روایت کړی چې: "لاتجتمع امتی علی الخطا؛ امت مې پر ناسم چار نه یو خوله کیږي" (۱۰) خو دغسې اجماع او یوه خوله کېدل، بې د علي له امامته، بل چا لکه حضرت ابوبکر (رض) ته را د بره شوې نه ده؛ ځکه د هاشم کورنۍ چې په خپله علي هم پکې و، د حضرت ابوبکر (رض) په ټاکنه کې ګډون نه درلود. (۱۱)

او همداراز یو شمېر سترو اصحابو له بیعته ورسره ډډه وکړه. (۱۲)

خو له حضرت ابوبکر (رض) سره تدریجي بیعت وشو او یا د تورې په زور.

د اسلام د دښمنانو پر ضد د یووالي لپاره دا چار ترسره شو (دې ته په پامنیوي، چې یو شمېر اصحاب بې له دې، چې بیعت وکړي له نړۍ ولاړل) چې دا چارې د امت د اجماع دلیل کېدای نشي؛ ځکه اجماع (که څه هم د مسلمانانو

مشران او مخورين وي) بايد په يوه وخت کې ترسره شي او که تدريجي اجماع کافي وي؛ نو د اجماع تر اثبات وړاندې چې کوم کسان مړه شوي وي؛ نو بې امامه به مړه وي، چې دا خو يې د جاهليت مړينه ده، حال داچې د مسلمانانو په اتفاق دا خبره سمه نه ده. دا ټول مسايل له عقلي پلوه وځېړل شو.؟

# د "امام نه پېژندنې" حدیث څېړنه

له نقلي پلوه څېړنه: دا حدیث په دیني او د شیعه په کتابونو کې راغلی چې رسول اکرم ویلي: "من مات ولم یعرف امام زمانه میتة جاهلیة، چې څوک ومري؛ خو د خپلې زمانې امام یې نه وي پېژندلی؛ نو د جاهلیت د زمانې په مړینه مړ شوی دی".

وایو: که، تر رسول اکرم (ص) روسته حضرت علي (ک) د امت امام نه وي، پایله دا کیږي، چې حضرت زهرا (رض) به دوزخۍ وي؛ ځکه د خپلې زمانې امام یې نه دی پېژندلی، تر دې چې د حضرت ابوبکر (رض) امامت یې و نه مانه؛ بلکې په ډاګه یې رد کړ او ادیان او تاریخ یوه خوله دي، چې په داسې حال کې له نړۍ ولاړه، چې پر حضرت ابوبکر (رض) غوسه وه؛ لکه چې په صحیح بخاري او د دینوري په "الامامة والسیاسة" کتاب کې راغلي دي. (١٤)

ایا دا سمه ده، چې ووایو فاطمة الزهرا له دې امله دوزخۍ شوې چې د خپلې زمانې امام يې نه دی پېژندلی؟ سره له دې چې د ديني او شيعه رواياتو له مخې فاطمة الزهرا د قيامت پر ورځ د خلکو شفاعت کوي. (١٥) او همداراز هغه کسان به هم دوزخيان وي، چې له حضرت ابوبکر (رض) سره د بيعت له پوره کېدو مخکې مړه شوي وي؛ خو مسلماً دا خبره سمه نه ده؛ نو پردې حديث د حضرت ابوبکر (رض) خلافت ته مخ نشو ورکولای؛ نو داچې د حضرت ابوبکر (رض) په زمانه کې د علي (ک) امامت جوت شو؛ نو د حضرت عمر (رض) په زمانه کې هم ثابت دی، ځکه په دې وخت کې هم د علي(ک) د امامت پر خلع کوم دليل نه لرو او يو مسلمان هم نه دي ويلي، چې علي(ک) د حضرت عمر (رض) پر مهال له هغه امامته جلا شوی، چې تر رسول اکرم روسته ورته ثابت شوی و.

دا د حدیث یوه لنډ شانته څېړنه و، سره له دې چې د علي (ک) د امامت په اړه ډېر دلایل لرو.

ایا د دویم خلیفه (رض) سوبې یې د غوراوي لامل دی؟

کله ویل کیږي: دویم خلیفه د اسلام د عزتمنېدو لامل شوی، ښارونه او هېوادونه یې سوبه کړي، کافران او مشرکان یې اسلام ته راکاږلي، چې نور دا امتیازات نه لري.

ځواب یې دا دی:

لومړی: له فتوحاتو یې منکر نه یو؛ خو دا موضوع یې د امامت دلیل کېدای نه شي؛ ځکه په لرغوني تاریخ کې د ایران، روم او د مصر د فرعونانو نومونه راغلي، چې د ښارونو تر فتحې روسته یې هغه دین دوداوه، چې عقیده یې پرې درلوده، چې دې چار «سیاسي- عقیدتي» علت درلود، لکه چې د لرغوني ایران ځینو پاچایانو زرتشت او مجوس دین خپراوه.

دویم: د مسلمانانو زیاتوالی هغه مهال د دین خدمت او اسلام ته ویاړنه ده، چې د نبي کریم په لیکه کې وي او پر

رښتوني اسلام يې منګولې لګولې وي، که اپوټه يې وي، نو د اسلام د وياړ او عزت لامل نه دی.

لکه هغو مسلمانانو چې د رسول اکرم سبط اکبر (امام حسن) مسموم يا يې امام حسين شهيد کړ (۱٦)، سره له دې چې دواړه د جنتي ځوانانو ښاغلي وو (۱۷)، يا د پيغمبر لوڼې بنديانوي، پر وړاندې يې د کربلا د شهيدانو سرونه د خلکو په مخ کې تېروي او ښار په ښار يې ګرځوي (۱۸) نو ايا ويلای شو، چې د مسلمانانو زياتوالی د اسلام وياړنه ده؟!

له همدې کبله په دې ښارونو او کورونو کې ځينو مسيحيانو د دې مسلمان ډولو دا کړنې رد کړې او له واقعي اسلام سره يو ځای شول (لکه د يزيد په غونډه کې چې يو تن مسيحي مسلمان شو او....) اوس نو تر دې سرېزې روسته وايو:

ايا دا اسلام ته وياړ دی، چې معاويه بن ابوسفيان دې والي مقرر شي او د مسلمانانو پر اوږو يې ورپېټې کړي او په

قرآن کې چې امویان په "شجره ملعونه" (۱۹) تعبیر شوې، ملاتړ ترې وشي، په داسې حال کې چې رسول اکرم یې واکمني غندلې، او همدوی خلافت پر پاچاهۍ واړاوه؟!
هغه معاویه بن ابوسفیان چې د حضرت زبیر بن عوام (رض) کړوسی یې په اړه وایي: (له لومړی تهوک: امامانو وندهه راشی)
دې ته په پامنیوي، که علي (ک) تر رسول اکرم روسته د خلافت واګې ترلاسه کړې وای؛ نو فتوحات به یې خورا ډېر وو او فتح شوي ښارونه به یې د رښتوني اسلام پر لور رهبري کول او بیت المال به یې پکې یو رنګ ویشه لکه چې د حضراتو طلحه او زبیر (رضي الله عنها) او نورو په باب راغلي، چې دوی ته یې له بیت الماله د بېوزلو هومره برخه ورکوله. (۲۰) او د اسلام واقعي چارې یې ورښوولې او د علم ورونه یې ورپرانستل؛ ځکه هغه خو د نبوي علم د ښار ور او تل یې د کوفې پر منبر ویل: "مخکې تر دې،

چې له تاسې ولاړ شم، ومې پوښتئ؟ چې زه د ځمکې تر لارو د اسمانونو لارې ښه پېژنم" (۲۱).

ځينو مستشرقينو ويلي: "که د علي پر مهال وای، نو د دې زمانې د نويو پېچليو علومو، نجوم، طبعيت او... په اړه مو پوښته او د دې پوښتنو له مخې، موږ خپلې علمي څېړنې د تمدن تر لوړو څوکو رسولې".

خو تاسف چې د علمي دقيقو پوښتنو پر ځای يو ترې پوښتي چې: "راته ووايه، چې د سر ويښان مې څومره دي؟" (۲۲).

د حضرت علي (ک) د خلافت پر مهال که د اختلاف جرړه وپوښتل شي: که علي د چارو واگې ترلاسه کړې وای؛ نو فتوحات ډېرېدل؛ خو ولې يې د خپل ظاهري خلافت پر مهال دغسې سوبې نه درلودې؛ بلکې تر درېيو خلفاوو روسته، پر مهال يې اختلافات او گډوډي څو گرايه شوه؟

دا نيوکه حجة الاسلام غزالي په احياء العلوم کې کړې ده:

شیعه (د دولس گونو امامانو لارویان) وایي: له دیني او دنیوي پلوه د ژوند په ټولو اړخونو کې د عمومي مشرۍ ترمنځ یې همغږۍ او یووالی ته امامت وایي، حال داچې د علي په خلافت کې دا ټولې ګډوډۍ او اختلافات رامنځ ته شول؟!

ځواب: پوښتو، د اختلاف جرړه د رښتوني اسلام د پلویانو له لوري و، یا د زر، زور او ځاني غوښتنو د پلویان له خوا؟ په څېړنه کې مومو، چې د اختلاف پېل خو ام المؤمنین عایشې، طلحه او زبیر (رضی الله عنهم) وو، چې د جمل جګړه یې ونښلوله، حال داچې خدای د پېغمبر مېرمنو ته وایي:

(احزاب: ۳۳ آیت)"وقرن فی بیوتکن؛ په خپلو کورونو کې میشتې شئ".

او سره له دې چې نبي کریم (ص) عایشه بي بي خبره کړې وه، چې له مدینې وتل یې بې لاریتوب دی، چې په دې لار کې به د "حوئب" سپي پرې وغپي. (۲۳)

او د طلحه او زبیر (رضی الله عنهما) په اړه وایو، چې دوی خو له علي (ک) سره بیعت کړی و او ورته لازم نه وو، چې عادل امام یې پرېښی وای (٢٤)، له همدې امله په جمل جگړه کې زبیر (رض) د غفلت له خوبه راویښ شو او له جگړې لاس په سر شو. نو ځکه د علي (ک) خلافت د اختلاف لامل نه و؛ بلکې بنسټیریز لامل یې ځاني غوښتنې او واکمنۍ ته رسېدل وو، ځکه د پیغمبرانو په تاریخ کې هم ډېر ځل لیدل شوي، چې یو شمېر د اختلاف لامل شوي، سره له دې چې د پیغمبرانو بلنه یې منلې وه؛ خو ځاني غوښتنې، هوی او هوس یې د کار گوډولو لامل شو او غالباً کارماتي یې تر رښتینو پلویانو ډېر و؛ نو ایا سمه ده، چې دا ډول اختلافات په پیغمبرانو پورې وتړو؟! نه!

که پیغمبران د اختلافاتو جرړه وبولو؛ نو شوني ده، چې د علي (ک) د خلافت پر مهال د اختلافاتو جرړه په خپله

علي (ک) وګڼو، پېغمبران خو د اختلافاتو د هوارېدو لپاره راغلي؛ نو څنګه يې د ګډوډۍ جرړه وبولو.

* په دويم پړاو کې د اختلافاتو اصلي جرړه

د علي (ک) د خلافت تر لومړي پړاو روسته، په دويم پړاو کې معاويه بن ابو سفيان د اختلافاتو اصلي جرړه ده؛ څکه له عادل امام سره يې بيعت و نه کړ او پر ضد يې راپاڅېد، سره له دې چې له نبي کريم (ص) څخه يې د علي په اړه اورېدلي و:

"اللهم وال من والاه و عاد من عاداه وانصرمن نصره و اخذل من خذله؛ خدايه!هغه دوست وبوله، چې علي دوست ګڼي او دښمن يې دښمن وګڼه د ملاتړي يې ملاتړ شه او چا چې ورشا کړه ته يې هم پرېږده" (۲۵)

که ام المؤمنين عايشې (رض) او معاويه بن ابو سفيان د مسلمانانو ملا ماته کړې نه وای او حق ته يې غاړه ايښودې وای او د خپلې زمانې له امام سره يې جګړه نه وای کړې؛ نو اختلافات نه رامنځ ته کېدل او علي (ک) ورسره د

رسول اکرم په څېر چلېده او په نړۍ کې يې اسلامي ښوونې په ښه توگه عملي کولې؛ خو شيطان خپله ژمنه پوره کړه:

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ( ص/۸۲): (ابليس) وويل: (( ستا پر عزت قسم، چې زه به هرومرو دوی ټول بې لارې کړم.))

او د حضرت زهرا (رض) يو تعبير دی چې وايي:

"و امامتنا امان من الفرقة؛ امامت مو له درز څخه "د بچېدو لامل دی" او دا تعبير مو له "بلاغات النسا" له کتابه اخستی دی.

په رښتيا که امامت او خلافت له خپل اصلي بهير اوښتی نه وای؛ نو د نبي کريم تر وفات روسته تر ننه اختلافات نه رادبره کېدل او د "قاضي زنگه زوري" (تشريح و محاكمه در تاريخ آل محمد د کتاب خاوند) دا خبره څومره په ځای ده، چې وايي: "موږ اهل سنت د حرقوس بن زهير په څېر خوارج او لارويان يې غندو؛ خو ولې معاويه او

لارویان یې لکه عمروعاص او نور ځانګړي یاران یې نه غندو؟حال داچې د دواړو ترمنځ په دې اړه څه توپیر نشته؛ ځکه خوارج له دې امله غندو، چې د اجماع له مخې د علي امامت رامنځ ته شو؛ خو دوی ترې ووتل او کټ مټ همدا دلیل او تر دې سخت، معایه او ملګرو په اړه یې هم دی".

هو، یو توپیر یې ترمنځ دی او هغه داچې معاویه بن ابوسفیان د مسلمانانو شتمنۍ د ابوهریره په څېر (۲٦) وګړیو ته ورکولې چې د علي او آل علي پر ضد د دروغو روایات جوړ کړي او د ولایاتو چارې یې عمرو عاص، مغیره او د زیاد بن ابیه په څېر کسانو ته ورکړې، حال داچې د خوارجو مشر دغسې امکانات نه درلودل؛ نو ځکه کوم دلایل چې د خوارجو د غندنې لپاره دي، همدا د معاویه او ملګرو لپاره یې هم دي.

پردې سربېره، د معاویه بن ابو سفیان د غندنې دلایل خورا غښتلي او پیاوړي دي او هغه داچې پر جګړې سربېره د

خپلې زمانې امام يې کانځه او مسلمانانو ته يې امر کړی و، چې په ښارونو کې علي (ک) وکنځي او دا بدعت او ناوړه دود نژدې اتيا کاله په ټولو اسلامي ښارونو کې دود و (۲۷) چې بيا د حضرت عمر بن عبدالعزيز (رحمة الله عليه) په زمانه کې لرې کړای شو. (۲۸)

# د حضرت عثمان او علي (رضي الله عنهما) او معاويه بن ابو سفيان د واکمنيو پرتلنه

د حضرت عمر (رض) په خلافت کې امويانو ته مخه پرانستل شوه، چې د ولس پر اوږو سپاره شي.حضرت عثمان (رض)چې له اموي کورنۍ څخه دی، تر حضرت عمر (رض) روسته خليفه شو، تاريخ يې پر بې عدالتيو او ظلمونو شاهد دی او په ډېرو رواياتو کې دلايل راغلي، چې د امامت وړتيا يې نه درلوده، چې موږ يې له راوړو

تېرېږو؛ خو یوازې پوښتو: که حضرت عثمان (رض) پر حق امام وای؛ نو پایله داچې ډېری ستر اصحاب لکه: حضرت ابوذر، عمار او بن مسعود (رضی الله عنهم) به دوزخیان وي؛ ځکه چې دوی یې امامت ونه مانه؛ بلکې ډېری نورو مسلمانانو هم ترې خپل بیعت واخېست او د وژنې لامل یې شو لکه: حضرت طلحه او زبیر او د مدینې، مصر او نورو سیمو مسلمانان او که ووایو، چې دا ټول دوزخیان دي؛ ځکه د خپلې زمانې امام یې ونه پېژانده؛ نو دا خو سمه خبره نه ده؛ نو ځکه د هغې زمانې واقعي امام حضرت عثمان (رض) نه و او دا هم څرګنده ده، چې پر هغه مهال بې له علي (ک) بل چا د امامت ادعا ونه کړه؛ نو ځکه هغه دوزخي دی چې د علي (ک) د امامت له منلو یې سرغړونه وکړه او چا چې د حضرت علي (ک) امامت ونه پېژانده، مړینه یې د جاهلیت مړینه ده.

او د حضرت عثمان (رض) تر مرگ روسته، بې شکه پر حق امام، علي و؛ ځکه مسلمانان يې د امامت په منلو يوه خوله شول، چې د تاريخ پر شاهدۍ دا اجماع د حضرت ابوبکر (رض) تر اجماع پراخه وه.

نو ځکه چا چې د علي (ک) امامت ونه مانه؛ نو مسلماً دوزخي و او چې چا پر امامت ونه پېژانده او ومړ؛ نو په جاهلي مړينه مړ شوی دی.

او د حضرت علي (ک) تر شهادت روسته، معاويه بن ابو سفيان د خلکو امام نه و؛ ځکه له نبي کريم او علي (ک) څخه د رارسېدلو رواياتو له مخې امام حسن (رض) رسماً د خلکو امام و، کومو مسلمانانو چې له علي (ک) سره بيعت کړی و، له امام حسن (رض) سره يې هم وکړ؛ بلکې بې له معاويه او لارويانو يې، نورو ټولو مسلمانانو يې امامت ومانه. د امامت مقام د دښمن په زور او برلاسۍ له منځه نه ځي او که په ځينو ځايونو کې د زور له مخې په

ظاهره بیعت ماتونه شوي وي؛ نو دا د تقیه په حالاتو پورې اړه لري او دا د پیغمبر اکرم د دې خبرې مانا ده:
"الحسن والحسین امامان قاما او قعدا؛ حسن او حسین دواړه امامان دي، که پاڅي او که پانځي" (علل الشرایع ۱: ۲۱۱مخ).

کله پوښتي: که معاویه د خپلې زمانې له امامه سرغړاندی شو او په خپله د علي د خلافت پر مهال د خلکو امام نه و؛ خو تر شهادت روسته یې د خلکو امام شو؛ نو اطاعت یې ځکه واجب شو، چې "اولی الامر" دی؛ "اطیعوا الله و اطیعوا الرسول و اولی الامر منکم"

ځواب یې دا دی: له څو اړخونو دا یوه بې ځایه پوښتنه ده:

۱- دا خبره د حسنینو په اړه د پیغمبر له پاسنۍ خبرې سره اړخ نه لګوي.

۲- قرآن ورته ځواب وایي:

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُوراً(انسان/۲۴): نو د خپل پالونکي د حکم (په تبليغ او عملي کولو کې) زغمناك (او ټينګ) اوسه او له هغوی د هيڅ يوه ګناهګار يا نامنندوی (کافر) خبره مهٔ منه.

اوس وايو: د خپلې واکمنۍ پر مهال د معاويه بن ابو سفيان ګناهګارېدل په ډاګه دي، چې په دې اړه څوک شکمن نه دي؛ څکه حجر بن عدی او ياران يې ووژل، خپل فاسق او شرابي زوی يزيد يې خپل ځايناستی کړ او په سلګونو نور جنايات.

د پيغمبر اکرم د خبرې [الولد للفراش و للعاهر الحجر؛ اولاد د خپل شرعي پلار مال دی او زناکار ته تيږه ده] (۳۰) پرخلاف يې زياد بن ابيه ته خپل ورور ووايه، چې د ابو سفيان زوی دی.

بل داچې د جنتي ځوانانو يو ښاغلی امام حسن او نور لکه مالک اشتر (رض) يې مسموم کړل او ويل يې: "ان لِلِه جنوداً من عسل" (۳۱)؛ خدای د شاتو لښکرې هم لري

(۳۱) او دا خبره يې هله وکړه چې په زهرو ککړو شاتو يې مالک اشتر (رض) مسموم کړ.

او قرآن د معاويه د خلافت د نه سموالي په اړه وايي:

لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ(بقره/۱۲۴): ظالمانو ته مې وعده نه رسي

او د معاويه ظلم د ځينو د شرک په څېر دی:

إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ( لقمان/۱۳): شرك سترظلم دی.

او له کتاب او سنتو چې تېر شو؛ نو عقل او وجدان وايي، چې دغسې يو تن د پيغمبر ځايناستۍ ته وړ نه دی؛ نو ځکه د قرآن او سنتو په څرګند نقص او د عقل له مخې د دغسې يو ګناهکار وګړي اطاعت کول روا نه دي او د «اولی الامر» د اطاعت يو شرط دا دی، چې ګناهکار نه وی.

لوستونکی دې د حضرت عثمان (رض) له وخته تر "مروان حمار" پورې د امويانو ننګين تاريخ مطالعه کړي، چې بې له حضرت عمر بن عبدالعزير (رحمة الله عليه)

ځخه نور ټول يې ګناهکاران دي او د "اولی الامر" په نامه يې اطاعت واجب نه دی، دغسې عباسيان هم دی.
تعصب څنډې ته کوو او د حضراتو عثمان او علي (رضی الله عنهما) د واکمنۍ دور لنډ شانته پرتله کوو:
ګورو چې حضرت عثمان (رض) د حضرت عبدالرحمان بن عوف (رض) له هغه شرط سره مخالفت وکړ، چې د خليفه کېدو پر مهال يې ورسره وکړ او شرط دا و، چې حضرت عثمان به پر کتاب الله، نبوي سنتو او د ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) په دودونو عمل کوي (۳۲)؛ خو د ديني او شيعه تاريخپوهانو د ليکنې له مخې، نوموړي پر يوه هم عمل ونه کړ؛ نو چې شرط له منځه ولاړ شي مشروط (د حضرت عثمان خلافت) هم له منځه ځي.

# د حضرت عثمان (رض) د نادودو ځینې بېلګې

د بیت المال په وېش کې یې امویان او خپلوان پر نورو غوره کړل؛ داسې چې تر نورو یې څو ګرایه ورکول، تر دې چې د خپل تره زوی مروان ته یې د افریقا د خمس له غنایمو (۳۳) په زرګونو دیناره او درهمه او فدک یې د واده پر شپه خپلې لور ته ورباښه، سره له دې چې له حضرت ابوبکر(رض) د رسول اکرم روایت و: "نحن معاشر الانبیا لا نورث ما ترکناه صدقه؛ موږ پېغمبران څه میراث نه پرېږدو، چې څه رانه پاتې دي، ټولو ته صدقه ده" (۳٤).

حال داچې علي (رض) خپل ورورعقیل ته د نورو تر برخې زیات څه ور نه کړل، د خپل ورور او نورو ترمنځ یې هیڅ توپیر ونه کړ؛ بلکې په غبرګون کې حضرت علي

د عقیل لاس ته سره کړې او سپنه ورنژدې کړه او په دې توگه یې عقیل وپوهاوه، چې دروند مسوولیت ورتر غاړې دی (۳۵). دغسې د ژوند په نورو پېښو کې یې عادلانه چلن په سترگو کیږي.

له علي (ک) تېرېږو او په معاویه پسې ځوو، وینو چې د اسلام له قوانینو او شریعت سره ټکر یې د لمر په څېر په ډاگه دی چې مهم یې دا دي:

۱- د خپلې زمانې د امام، حضرت علي (ک) له اطاعته یې سرغړونه وکړه، جگړې ته یې راووت، سره له دې چې گردو مسلمانانو ورسره بیعت کړی و.

۲- خلافت یې پر پاچاهۍ واړو، سره له دې چې امام باید په ټولو چارو کې په نبي کریم (ص) پسې ولاړ شي.

۳- د جنتي ځوانانو یو ښاغلی امام حسن یې مسموم کړ، سره له دې چې: د علي تر شهادت روسته له امام حسن سره د معاویه جگړه، د زمانې د امام له اطاعته وتل و، لکه

چې تاریخ لیکي، مسلمانانو له امام حسن سره تر حضرت علي (ک) روسته بیعت وکړ او خلیفه شو.

٤- د مسلمانانو یو شمیر ستر مشران یې په زهرو او توره ووژل، لکه: حجر بن عدی او یاران یې (۳٦)، مالک اشتر او محمد بن ابوبکر (رضی الله عنهم) حسن بصري (رح) وایي: معاویه څلور څانګړنې درلودې، چې یوه یې هم هلاکت ته بس ده:

۱- امت ته یې تیټ وکتل او بې مشورې یې د خلافت چارې ترلاسه کړې، سره له دې چې په امت کې د رسول اکرم اصحاب او مخور مسلمانان وو.

۲- خپل چړچه مار، شرابي او له ټنګ ټکور سره روږدی زوی یې خپل ځایناستی کړ، چې وریښمني جامې یې اغوستې.

۳- زیاد بن ابیه یې خپل ورور کړ، سره له دې نبي کریم ویلي دي، چې اولاد د شرعي پلار مال دی او زناکار ته ډبره ده.

٤- حجر بن عدی يې وواژه، وربانديې افسوس، چې لاسونه يې د حجر او د حجر د يارانو په وينو ككړ دي. (٣٧)

نو په انصاف قضاوت وكړئ، ايا دا سمه ده، چې د معاويه بن ابو سفيان په څېر يو تن د امت امام شي، داسې كه څوک ومري؛ خو د ده امامت يې پېژندلی وي؛ خو منلی نه وي؛ نو په جاهلي مړينه به مړ وي او دوزخ ته به ځي؟! نه.

# د نورو امامانو زمانه

تر معاويه بن ابو سفيان روسته، يزيد امام دی که حسين رضی الله عنه؟

پوهيږو، چې تر ډېرو لږو پرته، نور ټول مسلمانان پر يزيد لعنت وايي*.

که د يزيد امامت سم وای؛ نو ورباندې لعنت ويلو ته يې د جواز کوم دليل نه و او لازم و، چې ټول لعنت ويوونکي او امام حسين او ياران يې دوزخيان وي؛ ځکه د خپلې زمانې د امام (يزيد) امامت يې ونه مانه او تر يزيد روسته ايا د خلکو امام حضرت سجاد علي بن الحسين دی، يا مروان بن حکم، چې رسول اکرم شړلی و او رسول اکرم (ص) ورته چونگښه د چونگښې زوی ويلی و (۳۸) او نور مطالب يې د ده او امويانو په اړه ويلي وو.

او تر مروان روسته، ناپاکه زامن او لمسي يې د خلکو امامان وو، يا د اهل بيتو غوره کسان؛ لکه امام باقر او امام صادق رحمة الله عليهما!

آل مروان چې څومره فساد کولای شو ویې کړ، ان تر دې چې "زید بن علي بن الحسین" یې وواژه او بیا یې کلونه کلونه په ونه کې راځوړند کړ، داسې چې غښې یې په وچې شوې تنه کې ځالې وکړې (۳۹) بیا یې وسوځاوه او ایره یې په سیند کې واچوله.

یو یې ولید بن عبدالملک دی او قرآن یې په غشیو وایشت او د غشي تر وړولو روسته یې قرآن ته وویل:

اذ اما جئت ربک یوم حشر – فقل: یارب مزقني الولید (٤٠)

"د قیامت پر ورځ چې خپل پالونکي ته ورغلې؛ نو ورته ووایه چې ولید څیري کړم"

هر منصف او عقلمن د دې وګړیو ترمنځ باید عادل او پر حق امام وپېژني او حق امام له باطل امامه جلا کړي.

# د عباسيانو واكمني

تر امويانو روسته د عباسيانو وار راورسېد، اوس وينو، چې څوک په دې زمانه کې د امت رښتونی امام و؟

ايا منصور دوانيقي د عباسيانو دويم خليفه امام و، چې پر آل محمد (ص) يې خورا ظلمونه وکړل، وېې وژل (٤١)، بنديان يې کړل، امام صادق به يې له مدينې څخه عراق ته راوغوښت او په سپکاوي به يې ورسره خبرې کولې، چې بيا يې والي په مدينه کې مسموم کړ او ان دومره ناځوان و، چې ابو مسلم خراساني يې هم وواژه، چې پاچاهي يې ورته گټلې وه؛ نو پرتله کړئ، چې منصور د زمانې د امت امام و که امام جعفر صادق (رح) چې د علم، فضل، تقوی او ښو ځانگړنو خاوند و؟!

د منصور په جناياتو د پوهېدو لپاره وگورئ: تتمة المنتهى: ١٦ – ٢٠٥ مخونه.

تر منصور روسته زوی يې مهدي او د مهدي د زوی موسی عباسي وار راورسېد، چې د نڅا، شرابو او ډنگ

ډونګ غونډې به يې جوړولې او په زرګونو ګناهونه يې کول او له نبوي ځوځات سره يې په ډاګه دښمني راواخېسته او ويې وژل؛ نو ايا دوی د خپلې زمانې امامان دي، چې که يې ونه پېژنې؛ نو د جاهليت په مړينه کې به مړ شوی يې!

تر دوی روسته وار عباسي خليفه هارون الرشيد ته ورسېد، چې په يوه شپه يې شپېته تنه سادات ووژل، پر زړو او ځوانانو يې ونه لورېد او تنې يې ورته په ځاه کې وغورځولې (٤٢) او د اهل بيتو مشر امام موسی بن جعفر يې چې په بصره او بغداد کې و، څلور يا څوارلس؟ کاله بند کړ او په بند کې يې ربړاوه او په پای کې يې مسموم کړ؛ نو ايا اوس پوښتم، چې امام موسی امام دی يا هارون الرشيد؟

که وپوښتل شو: چې په دې زمانو کې خو امامت په امام صادق او امام کاظم او...... پورې ځانګړی نه و، چې يوازې يې په منصور، هارون او...... سره پرتله کړو؛ بلکې

احتمال یې دی، چې ابو حنیفه، مالک، احمد حنبل او شافعي د هغو زمانو امامان وي؟
په ځواب کې وایو: دوی د خپلې عقیدې له مخې په فقه او شرعي مسایلو کې امامان ول، حال داچې د "من مات ولم یعرف امام زمانه" له حدیثه په ګټنې سره، امامت په دیني او دنیوي چارو کې د مسلمانانو مشرۍ ته ویل کیږي.
تر هارون الرشید روسته زوی یې امین الرشید خلیفه شو؛ خو مامون الرشید وروسته راپاڅید او په زور یې واکمني ترې ونیوه او وې واژه.
مامون الرشید د حضرت علي (ک) د وړاندوینې له مخې [سادسهم اعلمهم؛ او شپږم یې تر هغوی ښه پوه دی] عالم و، ان چې د علي د خلافت په زبادولو کې به یې د اهلسنتو له عالمانو سره مناظرې او بحثونه کول او په اړه یې ویل کیږي، چې شیعه هم و او امام رضا یې ځکه خپل

وليعهد کړ، چې د امام رضا لارویان اغفال کړي؛ نو پوښتم چې ایا مامون الرشید امام دی یا حضرت رضا؟!

د امین او مامون جګړې ته په پامنیوي، امام حسن او امام حسین ورسره پرتله کوو، سره له دې چې د امام حسن د امامت دوره اوږده وه او امام حسین سره له دې، چې یو مېړنی و، خو کله یې هم له خپل ورور سره د یوې کلمې هومره مخالفت ونه کړ او تل یې تابع و.

تر مامون روسته ورور یې معتصم خلیفه شو، چې په هر ډول عیاشۍ او چټلۍ کې ورډوب و، امام جواد یې وواژه؛ نو ایا دا د امت امام و که امام جواد؟!

ورپسې د امام هادي او امام حسن العسکري رحمة الله علیهما وار راسي، متوکل د معتصم زوی د فساد جرړه او د علي او فاطمې سرسخت دښمن و (٤٣)، دنڅا غونډې یې جوړولې او په هره ناسته کې به یې پر علي ملنډې وهلې، چې په پای کې خپل زوی "منقر" ورباندې راپاڅېد او ویې واژه، فساد او بې لارېتوب یې خپل زوی ونشو

زغملای، سره له دې چې د عاطفې له مخې زوی باید د پلار له کړنو دفاع وکړي. نو اوس پوښتنه دا ده، چې ایا متوکل امام و که امام هادي؟!

او همدا راز امام حسن عسکري له عباسي خلفاوو په تېره له معتمد عباسي سره پرتله کوو چې امام یې مسموم کړ.

له دې پرتلنې او څېړنو پایله اخلو، چې د "من مات ولم یعرف امام زمانه....." د حدیث له مخې تر پېغمبر اکرم روسته امامت یوازې اهل بیتو ته وړ دی، چې دوی دولس تنه دي، چې لومړی یې علي (ک) او روستی یې امام مهدي علیه السلام دی.

## قضاوت وکړئ

د دولس ګونو امامانو د امامت په اړه له نبي کریم (ص) او علي (ک) څخه ډېر روایات راغلي او هم "خم غدیر" کې نبي اکرم، علي (ک) تر ځان روسته د مسلمانانو خلیفه منسوب کړ او هم د رسول اکرم دا روایت خورا مشهور

دی، چې: "الائمة من بعدی اثنا عشر" چې تر ما روسته امامان دولس تنه دي" (٤٤) چې لومړی یې علي (ک) او روستی یې محمد بن الحسن العسکري (امام مهدي) دی او دا حدیث بې له دوی پر نورو نه تطبیقیږي او نه په هغه زمانه کې نور داسې څوک ول، چې په دې حدیث کې راونغاړل شي.

له دې ټولو چې تېر شو، پوښتو، هغه کوم امام دی، چې پېژندنه او د امامت منل یې لازم وي، داسې چې که مسلمانان ورسره بیعت ونه کړي او ومري؛ نو د جاهلیت په مړینه به مړ وي او دوزخي به وي؟

له روایته خو په ډاګه څرګندیږي، چې په هره زمانه کې یو امام شته او د مسلمانانو چې هماغه خلیفه او مشر و او په زیات شمېر هېوادونو کې یې په خطبه کې یوازې د بغداد د خلیفه نوم اخسته، ان د عباسي خلافت تر راپرځېدو روسته یې د جمعې د لمانځه په خطبه کې د عثماني خلیفه نوم اخسته؟.

په پای کې د مطلب د ښه څرګندولو لپاره یو مثال راوړم او پوښتم: که د چا پلار په پاکستان کې زیږیدلی او په افغانستان کې اوسیدلی وي او په خپله دا وګړی په ایران کې زیږیدلی او ورپسې د زده کړې لپاره عراق ته تللی وي او بیا په مسافرت سوریه ته ولاړ وي او هلته یې واده کړی وي او ورپسې د کار او ګټې لپاره اردن ته ولاړ شي او له هغو ځایه مصر ته ورشي او څه موده پکې تېره کړي او بیا لیبیا او ورپسې المغرب ته سفر وکړي او څه موده په الجزایر کې تېره کړي او بیا د حج په نیت عربستان سعودي ته لاړ شي..... نو د دې سړي د زمانې امام څوک دی، چې پېژندل یې ورته واجب دي، داسې چې که یې ونه پېژني او وې نه مني او ومري؛ نو د جاهلیت په مړینه به مړ وي؟

ایا امام زمان یې د پلار د ټاټوبي پاکستان ولسمشر دی یا یې د ځاځکي د انعقاد ځای د افغانستان ولسمشر یا د ایران ولسمشر چې د خپلې زده کړې هېواد یې دی یا د

عراق ولسمشر چې د زده کړې لپاره ورغلی یا د مصر ولسمشر چې واده یې پکې کړی یا د اردن پاچا چې هلته کار ته ورغلی؛ یا د مصر ولسمشر چې څه موده پکې اوسېدلی یا د لیبیا جمهور رئیس یا د المغرب یا سعودي عربستان پاچا؟!!

خپل وجدان مو قاضي کړئ او هر ډول کینه او تعصب لرې کړئ، ووینئ چې د دې پوښتنې ځواب څه دی؟

یا باید د دې زمانې ډېری مسلمانان د دې سړي په څېر، چې دا ولسمشران او پاچایان له دې امله چې د زمانې د امام په توگه یې نه پېژني او هم یې نه مني؛ نو چې ومري په جاهلیت کې به مړ شوي وي او دوزخیان به وي او یا داچې ووایو دا حدیث "من مات ولم یعرف امام زمانه........" دروغ دی؟!!

حال داچې (له دې مخې) نه ډېری مسلمانان دوزخیان دي او نه حدیث دروغ دی، خو د محمدي اسلام د لید له مخې، په هره زمانه کې امام شته، چې نبي کریم راته

ښوولي، چې یولس یې وفات شوي او روستی یې محمد بن الحسن العسکري (عجل الله تعالی فرجه) دی، چې ژوندی او له انظارو غایب په لر و بر کې د مسلمانانو امام دی او بدلېدای نه شي.

والحمدللهِ او لاً و آخراً و ظاهراً و باطناً

دا لیکنه پر ۱۳۸۹ س په نجف اشرف کې پای ته ورسېده.

پایلیکونه:

۱) د کلام په علم کې جوته شوې، چې امامت په عقلي مکلفیت کې "لطف" دی او مکلفیت بې له امامته نه پوره کیږي، د دې مطلب شرح وګورئ: شیخ طوسي، تلخیص الشافي: ۶۹/۱ مخ.

۲) .......له کتابه.

علامه مغربي د دې حدیث په شرح کې یو ځانګړی کتاب لري: "له کتاب"

۳) دا حدیث په سني او شیعه سرچینو کې راغلی: له کتابه

دویم خلیفه حضرت عمر (رض) پردې موضوع منښته کړې او وايي: علی اقضانا... د خلیفه دا خبره راخستې ده: له کتابه

۴) وګورئ: له کتابه

۵) وګورئ: له کتابه

۶) وګورئ: له کتابه

۷) حضرت علي (رض) د هجرت پر شپه د پیغمبر پر ځای ویده شو، په خندق او نورو غزاګانو کې یې سرښندنې.

مریم: ۳۰ آیت: " قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا

۸) "

مریم: ۱۲ آیت: " يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا "

۹) وګورئ: له کتابه

پر کوم دلیل علي د ټولو امام دی؟ ویې ویل: ټول خلک ورته اړین دي او دا له ټولو مړه خوا دی؛ نو ځکه د ټولو امام دی او هم ورته وویل شو: له کتابه.

د علي بن ابي طالب په اړه څه وایي: ویې ویل: د هغه سړي په باب څه ووایم، چې دوستانو یې د ډار له مخې او دښمنانو یې د کینې له مخې فضایل پټ کړل؛ خو بیا هم فضایلو یې ځمکه او اسمان نیولی دی.

۱۰)      د اهل سنتو په ځينو کتابونو "لکه سنن الترمذي ٤: ٤٠٥ مخ، ۲۱٦۷ حديث، مسند احمد ٥: ١٤٥ او کتاب السنة لابن ابی عاصم: ١٤مخ، ٨٤ حديث) کې دا حديث په دې الفاظو راغلی دی:

"لا تجتمع امتی علی خلالة"

خو د اهل سنتو په کتابونو کې د "لاتجتمع امتی علی الخطا" د حديث د پرله پسې توب او تواتر ادعا شوې ده او ان ځينې اهل سنت په خپلو اصولي کتابونو کې د اجماع د حجتوالي لپاره پرې استدلال کوي، لکه غزالي په "المستشفی" ۱: ۱۷۵ کې، علامه مظفر په "السقيفه" کې په دې اړه اوږد بحث کړی دی.

۱۱)      بني هاشمو د علي (رض) په مشرۍ بيعت ونه کړ؛ وګورئ: له کتابه....

۱۲)      هغه ستر اصحاب چې له حضرت ابوبکر (رض) سره يې له بيعته ډډه وکړه، يو شمېر يې دا دي: له کتابه.

۱۳) دا حدیث په سني او شیعه سرچینو کې راغلی دی: له کتابه.

۱٤) سني او شیعه و لیکلي: فاطمة الزهرا (س) د حضرت ابوبکر (رض) پر کار غوسه له نړۍ ولاړه او وصیت یې کړی و، چې د شپې شپې یې ښخه کړي... په صحیح بخاري (۱۷۷/۵مخ) کې راغلي: له کتابه.

له حضرت عایشې روایت شوی، چې فاطمې د رسول الله لور له فې خځه (هغه مالونه چې بې جګړې ترلاسه شوي او په رسول الله پورې ځانګړي وو) له ابوبکره د خپل پلار میراث وغوښت؛ خو ابوبکر یې له ورکړې ډډه وکړه، فاطمه پر ابوبکر غوسه شوه او تر مړینې یې ورسره خبرې ونه کړې، تر پیغمبر روسته شپږ میاشتې ژوندۍ وه، چې ومړه، نو مېړه یې علي د شپې شپې ښخه کړه او ابوبکر یې پرې خبر نه کړ.

۱۵) دا پېښه په لاندې کتابونو کې په لنډ شانته توپیر سره راغلې ده: له کتابه قرماني وایي: په روایت کې راغلي

دي: چې فاطمې واورېدل، پلار يې علي ته ور نکاح کړې او دراهم يې هم ورته مهر کړي، ويې ويل: يا رسول الله! د خلکو لوڼې په دراهمو نکاح کوي؛ نو زما او د هغوی ترمنځ توپير څه دی؟ هيله کوم چې دراهم ورستانه کړې او له خدايه وغواړې چې زما مهر دې ستا د امت د گناهکارانو شفاعت وگرځوي.

جبرئيل له يوې ورېښمينې رقعې سره راغلی، چې پکې ليکل شوي وو: "خدای تعالی د فاطمې مهر د هغې د پلار د امت د گناهکارانو شفاعت وگرځاوه". اخبار الدول: ۸۸مخ.

زهرای مرضيه د وفات پر مهال وويل: دا رقعه مې تر کفن لاندې پر سينه کېدئ چې دا چار وشو؛ نو ويې ويل: د قيامت پر ورځ چې راپاڅېدم، دا رقعه به په خپل لاس پورته کړم او د خپل پلار د امت د گناهکارانو شفاعت به وکړم.

۱۶) وگورئ: له کتابه

۱۷)	دا حدیث ډېرو اصحابو روایت کړی او لاندې کتابونه وګورئ: له کتابه

۱۸)	له کتابه

خدای تعالی پیغمبر اکرم ته وایي: [وَإِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِالنَّاسِ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤيَا الَّتِي أَرَيْنَاكَ إِلاَّ فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي القُرْآنِ وَنُخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلاَّ طُغْيَانًا كَبِيراً((اسراء/ ٦٠): او (دریاد کړه) چې کله موږ درته وویل: (( په رښتیا چې ستا پالونکی (په خپل علم او قدرت) پر ټولو خلکو راچاپېر دی (او پر حالاتو یې پوره پوه دی) او هغه خوب، چې موږ درلیدلی و [ چې بېزوګانې یې پر منبر ښکته پورته کېږي ] او (همداراز) په قرآن کې ملعونه ونه [= هغه ونه چې لعنت ورباندې شوی ] یوازې د خلکو د ازمېښت لپاره وو، او وېروو یې؛ خو (دغه وېرول یې) یوازې کفر او سرغړونې لاپسې ورزیاتوي.))]

فخر رازي (تفسير کبير ۲۰: ۲۳٦ مخ) د دې خوب په اړه ځلور روايتونه راوړي چې درېيم روايت يې له سعيد بن مسيب (رض) له خولې دی چې وايي: پېغمبر اکرم خوب وليد، چې بني اميه يې د بېزوګانو په څېر پر منبر پورته کېږي، د پېغمبر دا وضع بدې راغله. او په ۲۳۷ مخ کې د ابن عباس له خولې روايتوي چې د بني اميه ملعونه شجره؛ يعنې حکم بن عاص دی.

ابن عباس وايي: پېغمبر په خوب کې وليدل چې د مروان اولاده يو په بل پسې د حضرت پر منبر پورته خېژي.

په طبري تفسير (۱۵: ۷۷مخ) او الدرالمنشور (٤: ۱۹۱مخ) کې د سهل بن سهل له خولې وايي: رسوال الله خوب وليد چې د (پلاني) زامن يې د بېزو په څېر پر منبر خېژي، د پېغمبر دا حالت بد راغی او بيا د عمر تر پايه چا خندنی ونه ليد، روسته وايي: د "وما جعلنا الرويالتی......" آيت په دې اړه نازل شو.

سیوطي په الدرالمنشور تفسیر (٤: ١٩١) کې له حضرت عایشې (رض) روایتوي چې مروان حکم ته یې وویل: له رسول اکرم (ص) مې واورېدل، چې ستا پلار او نیکه ته یې ویل: په قرآن کې تاسې "شجره ملعون" یاست.

؟په "له کتابه" له نبي کریم روایت دی:

"چې د ابی العاص (بني مروان) زامن دېرشو تنو ته ورسي؛ نو د خدای شتمني به لاس په لاس کړي، د خدای بندگان به خادمان (مریان) او د خدای دین به فاسد کړي.

١٩) متن یې پورته دی، شماره یې لاندې ده.باید اصلاح شي

٢٠) همدا موضوع د دې لامل شوه چې حضراتو طلحه او زبیر (رضی الله عنهما) خپل بیعت مات کړ او عایشه ام المؤمنین یې له علي (رض) سره جگړې ته راوهڅوله.

٢١) وگورئ: له کتابه؟

۲۲)	په دې روايت کې راغلي: يو تن پاڅېد او وېې ويل: راته ووايه چې پر سر او بدن مې څومره ويښتان دي؟ علي (رض) ورته وويل: پر خدای قسم، دوست مې رسول اکرم (ص) ستا د پوښتنې ځواب راکړی دی، د سر پر هر ويښته دې يوه پرښته ده، چې ښېرا درته کوي او د بدن هر ويښته دې يو شيطان لري، چې بې لارې کوي دې او همدا اوس دې په کور کې يو سېرلی دی چې په راتلونکې کې د رسول الله زوی [حسين] وژني او که د خپل سر او بدن د ويښتانو شمېرل درته ستونزمن نه وو، درته مې ويل چې څومره دي (چې دې شمېرلی وای او پوه شوی به وای، چې سم دې ويلي) او زما د رښتينتوب نښه هماغه ده، چې درته مې وويل، د پرښتو لعنت او په کور کې دې سېرلی.
پوښتونکی څوک و؟

د شيعه وو په سرچينو کې پوښتونکی سعد وقاص (رض) و، او له سېرلې يې مراد "عمر سعد" و، چې په کربلا کې يې حسين وواژه.
وگورئ: کامل الزيارات . شيخ صدوق امالي . خصائص الائمة . مناقب آل ابی طالب.
د اهل سنتو په سرچينو کې:
علامه ابن ابی الحديد معتزلي شافعي د نهج البلاغي په شرح کې په دوو ځايونو کې وايي:
د دويم ټوک په ۲۸٦ مخ کې وايي: پوښتونکی "انس" او سېرلی يې سنان بن انس و، چې پر هغه مهال يې خاپوړې کولې.
د لسم ټوک په ١٤ مخ کې وايي: پوښتونکی تميم بن اسامه و او سېرلی يې حصين بن تميم بن اسامه و، چې په هغه زمانه کې تي خور ماشوم و، چې بيا يې د رسول الله زوی وواژه.

۲۳) ام المؤمنین عایشه (رض) چې بصری ته د جګړې لپاره روانه وه، په لار کې سپيو پرې وغپل او اوښان یې په منډو کړل، یو تن وویل: پر حوئب دې لعنت وي، څومره ډېر سپي لري.
د ام المؤمنین عایشې چې د نبي کریم له خولې د "حوئب" نوم اورېدلی و، چې د خدای پر ضد د جګړی په لار کې د حوئب سپي پرې برید کوي؛ نو پام یې شو او ویې ویل: دا حوئب دی؟ وویل شول: هو. ویې ویل: ستنه مې کړئ. وپوښتل شو: ولې؟ ویې ویل: له رسول اکرم (ص) مې واورېدل چې یې وویل: لکه چې وینم د حوئب سپي مې پر ځینو مېرمنو غپي، بیا یې راته وویل: حمیرا! ځان ساته، هسې نه چې ته یې.
حضرت زبیر (رض) عایشې ام المؤمنین ته وویل: آرامه شه، خدای دې درباندې ولورېږي، د حوئب له اوبو په فرسنګونو لرې شوي یو. عایشې (رض) وویل: شاهد لرې چې دا غاپي سپي د حوئب د اوبو سپي نه دي؟ حضراتو

طلحه او زبیر (رضی الله عنهما) پنځوس تنه عربان راټول کړل او قسم یې وخوړ چې دا حوئب نه دی او دا په اسلام کې لومړی د دروغو شهادت و، چې ورکړ شو. وګورئ: له کتابه

۲٤) شیخ مفید د الجمال کتاب په ۸۸مخ کې لیکي:
حضرات طلحه او زبیر یې خبر کړل، چې عایشه (رض) په مکه کې د علي (ک) پر خلافت او د حضرت عثمان پر وژنې خپه شوې او خلک یې د حضرت عثمان کسات اخستو ته رابللي دي او هم خبر شوي، چې د حضرت عثمان والیان له دې ډاره چې علي او د مهاجرو او انصارو یاران یې شتمني راځخه وانخلي، مکې ته تښتېدلي دي. مروان حکم (د حضرت عثمان د تره زوی) یعلی بن منبه د یمن او عبدالله بن عامر د بصرې د حضرت عثمان د زمانې والیان عایشې (رض) ته راغلي او د پاڅون نیت لري؛ نو همدا و، چې دواړه (طلحه او زبیر) علي (ک) ته ورغلل او ویې ویل: راغلي یو، چې عمرې ته د تلو اجازه راکړې؛

ځکه څه موده کېږي، چې عمرې ته نه يو تللي. علي (ک) وويل: پر خدای قسم د عمرې کولو هوډ نه لرئ؛ بلکې ژمنه ماتوئ او بصرې ته ځئ. ويې ويل: له خدايه ښښنه غواړو، يوازې عمرې ته روان يو. علي (ک) وويل: پر ستر خدای راته قسم وخورئ چې په مسلمانانو کې به فساد نه راولاړوئ او بيعت به مې نه ماتوئ او فتنې ته به نه ورننوځې. سخت قسمونه يې وخوړل، چې د علي (ک) پر ضد به کوم فعاليت نه کوي. له علي چې راووتل ابن عباس يې کتو ته ورغی او ترې يې وپوښتل: امير المؤمنين د عمرې د تلو اجازه درکړه؟ ويې ويل: هو. ابن عباس، علي ته ورغی. علي وويل: څه خبر؟ ابن عباس وويل: طلحه او زبير (رض) مې وليدل، چې له تا راستانه شوي وو. علي (ک) وويل: د عمرې اجازه يې رانه واخسته او هله مې اجازه ورکړه، چې ټينګ قسمونه يې راته وخوړل چې بيعت به نه ماتوي او فساد به نه راولاړوي. ابن عباس (رض) وويل: پر خدای قسم پوهېږم چې د فتنې هوډ

لري. علي وويل: راته ثرگنده ده، چې مکې ته ځي، چې راسره د جگړې لاره چاره چمتو کړي؛ ځکه يعلى بن منبه خاين جنايتکار او فاجر له عراق او فارسه بيت المال راوړی، چې له ماسره يې په جگړه کې ولگوي او دا دواړه (طلحه او زبير) به په حکومت کې فساد وکړي او زما د لارويانو د وينو توييدو لامل به شي.ابن عباس وويل: که در ثرگنده ده، چې د فتنې هوډ لري؛ نو ولې دې د تلو اجازه ورکړه؟ او ولې دې ونه نيول، چې د شر مخه يې ونيول شي؟ علي (ک) وويل: ابن عباسه! غواړې چې زه د تېري او بدئ پيلونکی وسم...... او د يو کار تر کولو مخکې يې کوونکی مجازات کړم. پر خدای قسم داسې به ونه کړم او خدای چې د حکمت او عدل کومه لار راټاکلې، تېری به ترې ونه کړم او له حق او عدله د بېلتون پيلونکی به نه يم.ابن عباسه! سره له دې چې پوهېدم، چې ثه هوډ لري، اجازه مې ورکړه خو پوه شه، چې د خدای په مرسته به، پرې بريالی شم او وبه يې وژنم او هيلې به يې

له خاورو سره خاورې کړم او خپلو هیلو ته به ونه رسي، پالونکی به د ظلم، بیعت ماتونې او تېرې سزا ورکړي.
ضامن بن شد قم المدني د الحجل؟ کتاب په ۹۸ مخ کې وایي: هغوی درنګ ونه کړ، او له ما یې د عمرې کولو اجازه واخسته او خدای پوهېږي، چې نیت یې بیعت ماتونه و؛ نو ځکه بیا مې ترې بیعت واخېست، چې اطاعت مې وکړي او په خلکو کې فتنه راولاړه نه کړي او همدا ژمنه یې راسره وکړه؛ خو وفا یې پرې ونه کړه، بیعت یې مات او ژمنه یې تر پښو لاندې کړه.عجیبه ده، هغوی حضرت ابوبکر او حضرت عمر ته تسلیم و، خو له ماسره یې مخالفت وکړ، حال داچې زه خو له هغو دواړو (ابوبکر او عمر) څه ټیټ نه وم.
ولوشئت ان اقول: اللهم احکم علیهما بما صنعا فی حقی و صفر امن امری و ظفرنی بهما.
(۲۵)      وګورئ: له کتابه

٢٦) ابن ابی الحدید (د نهج البلاغې شرح ٣١: ٢٢٠ – ٢٢١ مخونه) وايي: راته څرګنده شوې ده، چې معاويه، يزيد او تر دوی روسته مروانيانو د اتيا کالو په شاوخوا واکمنۍ کې هر ډول هڅه وکړه، چې علي وکنځي، او فضايل يې پټ کړي.

خالد بن عبدالله واسطي وايي: چې له معاويه سره بيعت وشو، مغيرة بن شعبه خطيبان اړ کړل، چې علي وکنځي.

سعيد بن زيد وويل: دا ظالم خو يو جنتي کنځي.

عبدالله بن عثمان تقفي له ابن ابی سيف روايتوي چې: د عامر بن عبدالله بن زبير يو زوی خپل زوی ته وويل: زويکه! علي يوازې په ښو يادوه، امويانو اتيا کاله پر منبرو کانځه، چې په دې کړنې د علي (ک) عظمت لا زيات شو، ځکه د څه چې دنيا بيخ بنا وي له منځه ځي او چې دين يې بيخ بنا وي همېشه پاتې وي.

ابی الحدید زياتوي: معاويه عراق، شام او نورو ځايونو ته امر وکړ، چې پر منبرونو به علي کنځئ، چې دا ناسم دود

د امويانو په زمانه کې د عمر بن عبدالعزيز تر وخته و، چې بيا همده لرې کړ.
په ۵۷ مخ کې ليکي: له ابو عثمانه روايت شوی، چې يو شمېر امويانو معاويه ته وويل: ته خو خپلو هيلو ته ورسېدې؛ نو ښه ده، چې د علي له کنځلو لاس واخلې.
ويې ويل: نه پر خدای قسم، تر هغې به لاس وانخلم چې کوچنيان پر همدې دود وروزل شي او پاخه عمري بوډاتوب ته ورسي او څوک پاتې نشي، چې فضايل يې روايت کړي.
او د څلورم ټوک په ۵۹ مخ کې د حضرت عمر بن عبدالعزيز (رح) له خولې روايتوي: پلار مې د مدينې امير و، د جمعې د ورځې خطبې ته به يې کېناستم، خطبه به يې په ځانګړي مهارت ويله او ښه خوله ور و؛ خو چې د علي کنځلو ته به رسېده، ترټری به شو، چې زه به حېران شوم، يوه ورځ مې ورته وويل، چې ته خو پياوړی خطيب يې؛ خو چې د علي (ک) کنځلو ته رارسې؛ ترټری کېږې،

راته يې وويل: زويه! د شام او نورو ځايونو خلک چې مې منبر ته ناست دي، که د علي د فضايلو په اړه چې زه پرې خبر يم، خبر شي؛ نو يو تن به هم په موږ پسې رانشي. دا خبره مې په درناوي په خپله سينه کې وساتله او چې څه مې په وړوکتوب کې له خپل ښوونکي زده کړي وو، ددې لامل شو، چې له خدای سره ژمنه وکړم، که يوه ورځ خليفه شم؛ نو دا ناسم دود به له منځه وړم او داچې خدای راباندې ولورېد او خليفه شوم؛ نو د کنځلو پر ځای مې دا آيت کېښود:

إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَىَ وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (نحل/۹۰): په رښتينه کې الله د عدل، ښېګڼې او د خپلوانو (د حق) پوره کولو امر کوي او له ناوړو چارو، بدۍ او سرغړونې منع کوي، نصحيت درته کوي، ښايي پند واخلئ.

او ګردې اسلامي نړۍ ته يې وليکل، چې د کنځلو پر ځای
به دا آيت لولئ.
او په پايله کې د دې آيت لوستل، د کنځلو ځای ونيو او
دود شو.
۲۷) په ۶۳ مخ کې ليکي: شيخ ابوجعفر اسکافي
وويل: معاويه يو شمېر اصحابو او تابعينو ته امر وکړ، چې
د علي (ک) په باب ناوړه روايات روايت کړي، چې
خلک ترې کرکجن شي او مخ ترې واړوي، او د دوی د
راضي کېدو لپاره يې ښه اجوره هم ورته وټاکله، او دوی
هم په څه چې معاويه خوشحالېده وکړل، په اصحابو کې
ابوهريره، عمرو عاص او مغيره بن شعبه او په تابعينو کې
عروة بن زبير دا جعلي روايات جوړ کړل.
په ۷۳ مخ کې له خپل استاد ابو جعفر اسکافي روايتوي:
روايت شوي، چې معاويه سمرة بن جندب ته يو لک
درهمه ورکړل، چې داسې يو روايت جوړ کړي، چې د
علي په باب دا نازل شوي آيتونه:

۲۸)	شماره باید پورته راشي

[وَمِنَ النَّاسِ مَن يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ. وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيِهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الفَسَادَ (بقره/۲۰۴، ۲۰۵): د دنیا په ژوند کې د ځينو خلکو خبرې تا اريانوي (په ښکاره ښه مينه څرګندوي) او څه چې يې په زړهٔ کې وي خدای پرې ګواه کوي؛ خو هغه سخت ځېلي جګړه مار دی؛ ( چې نښه يې داده ) چې پسې شا شو، پر ځمکه د فساد په خپرولو کې هڅه کوي، کښتونه او څاروي له منځه وړي او خدای فساد نهٔ خوښوي.

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاء مَرْضَاتِ اللّهِ وَاللّهُ رَؤُوفٌ بِالْعِبَادِ (بقره/۲۰۷): [او له خلکو، هغه دی، چې د خدای د رضا د تر لاسه کولو لپاره ځان پلوري (لکه علي د پيغمبر په بستره کې) او خدای پرخپلو بندګانو خواخوږی دی.]

د ابن ملجم په اړه نازل شوي دي.

خو سمرة ونه منل، معاویه ورته پېسې دوه لکه درهمه کړې، ، بیا یې هم ونه منلې، درې لکه یې کړې، بیا یې هم ونه منلې او چې څلور لکه یې کړې ویې منلې او روایت یې ورته جوړ کړ.

ابو جعفر وویل: سمه ده، چې امویانو خلک د علي د فضایلو له ویلو منع کړل او چا چې د علي فضایل روایتول؛ نو ځورول یې، ان چې د دیني شرایعو په باب، په علي پورې اړوند روایت، یې د عن ابی زینب په نوم راوړه او چا جرات نشو کړای، چې د علي نوم واخلي.

۲۹) ثقفي په الغارات (۲: ۸۱۲مخ) کتاب کې لیکي: یعقوب بن سفیان په خپل تاریخ کې له ابوالاسوده روایتوي: معاویه، حضرت عایشې (رض) ته راغی، چې د حجر او یارانو د وژنې له امله یې ورټه او ویې ویل: له رسول اکرم مې واورېدل، چې یې ویل: تر ما روسته داسې سړي وژل کیږي، چې له امله یې خدای او اسمانوال پرې غوسه کیږي.

۳۰) له کتابه

۳۱) صنعاني وايي: امير المؤمنين حضرت علي (ک) حضرت مالک اشتر د مصر امارت ته ولېږه، چې قلزم ته ورسېد، په زهرو ککړ د شاتو شربت يې پرې وڅښه، چې له امله يې شهيد شو. معاويه او عمرو عاص چې خبر شول، عمرو عاص وويل:

"ان لله جنوداً من عسل؛ بېشکه چې خدای د شاتو يو لښکر هم لري"

او چې علي (ک) د مالک له وفاته خبر شو؛ نو محمد بن ابوبکر (رحمة الله عليهما) يې د مصر امارت ته ولېږه. له کتابه....

۳۲) وگورئ: له کتابه

۳۳) د شيخينو له سيرت سره د حضرت عثمان (رض) د مخالفت په اړه يو عربي شاعر عبدالرحمان بن صنبل جمعي وايي:

"پر خدای قسم، چې خدای د نړۍ پېښې چتې پنځولې نه دي"
او تر شیخینو روسته، چې کومه فتنه راولاړه شوه؛ نو زموږ او د راولاړوونکیو د ازمېښت لپاره و.
په حقیقت کې دوه تنو امینانو (ابوبکر او عمر) د هدایت لار روښانه کړه.
هغوی نه په خپله بې دلیله د خلکو له ماله کوم یو درهم واخېست او نه یې چاته د ځاني غوښتو له امله کوم درهم ورکړ.
(خو ته ای عثمانه) د رسول اکرم ملعون او شړل شوی دې د مخکېنیو د دود پر خلاف راستون کړ.
او د خدای د بندګانو خمس (پینځمه) دې مروان ته ورکړ او په پایله کې، پر خلکو دې ظلم وکړ او له ظالمانو دې ملاتړ وکړ. له کتابه.....
بلا ذري له عبدالله بن زبیره روایتوي:

حضرت عثمان (رض) پر ۲۷ س د افریقا جګړې ته ولېږلو، چې په دې جګړه کې عبدالله بن سعد بن ابی سرح ډېر غنایم حضرت عثمان (رض) ته راووړل، چې خلیفه پنځمه یې (د روایت له مخې دوه سوه زره دیناره) مروان ته ورکړل. علامه امیني الغدیر ۸: ۲۵۸ مخ.

۳٤) د دې حدیث د څېړنې او ارزونې لپاره وګورئ: سید حسن قزویني، "هدی الملة الی ان فدکا نحلة" کتاب.

۳۵) د نهج البلاغې ۲۲٤ خطبه.

۳٦) له کتابه

۳۷) تاریخ الطبري ٤: ۲۰۸مخ.

۳۸) حاکم نېشاپوري (المستدرک ٤: ٤۷۹ مخ) له عبدالرحمن بن عوف (رض) روایتوي: چې په مدینه کې هر ماشوم زېږېده؛ نو رسول اکرم ته به یې راوسته، چې مروان وزیږېد او حضرت ته یې راوست؛ ویې ویل: چونګښه د چونګښې زوی او ملعون د ملعون زوی (حاکم دا روایت صحیح ګڼلی دی).

۳۹) ابن عسکر له حسن بن محمد بن معاویه بجلي روایتوي: چې زید بن علي یې پر دار وځړاوه، مخ یې ورته د فرات پر لور کاوه؛ خو بېرته به د قبلې خواته کېده او داچې لغړ یې پر دار ځوړند کړی و، غنو یې د عورت په شا و خوا کې ځالې جوړې کړې چې پټ شي.
وگورئ: تاریخ مدینة دمشق ۱۹: ٤۷۹مخ.
له حریر بن حازم روایتوي: رسول اکرم مې په خوب کې ولید چې د زید بن علي پر دار یې ډډه وهلې وه او وایي: له اولاد سره مې دغسې چلن کوئ؟!
وگورئ: تهذیب التهذیب، لابن حجر ۳: ۳٦۲مخ.
سید اعلوم النبلا للذهبي ٥: ۳۹۰مخ.
په یعقوبي تاریخ (۲: ۳۲٦مخ) کې راغلي:
زید بن علي یې تر وژنې روسته پر یوه خره کوفې ته بار کړ او د هغه مبارک سر یې پر یوه لرگي وټومبه او بیا یې د هغه تنه او سر وسوځول او نیمه ایره یې په فرات کې او نیمه یې په کرنه وروشیندله. زید پر ۱۲۱س شهید شو.

٤٠) قرطبي وايي: ماوردي په "ادب الدنيا والدين" کتاب کې ليکي: يوه ورځ "وليد بن يزيد بن عبدالملک" د خپلې راتلونکې په اړه په قرآن فال ونيو، چې دا آيت راغی: [ وَاسْتَفْتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ(ابراهيم/١٥): اوهغوی (له خدايه پرکافرانو) بريا غوښتې وه او(په پايله کې له حق سره) هر کينه کښ، سرکښ ظالم ناکام شو]
نو قرآن يې په غشيو وايشت او ځيرې يې کړ او ويې ويل:
له کتابه.
"ايا ظالمان گورې؟ نو زه هم له ظالمانو يم، چې د قيامت پر ورځ خپل پالونکي ته ورغلې، ورته ووايه، خدايه وليد ځيري ځيري کړم" تردې پېښې روسته څه لږه موده ژوندی و، تردې چې په خورا ناوړ، وضع ووژل شو او سر يې پر وره وځړول شو.
وگورئ: له کتابه.
٤١) طبري له يعقوب بن سليمان څخه روايتوي: جمره يو عطر پلوری او د ابو جعفر منصور دوانيقي

ځانګړې عطاره و، راته يې وويل: منصور د حج هوډ وکړ او زوی يې مهدي په "ری" کې و، منصور د مهدي مېرمن (ريطه) د ابوالعباس لور راوغوښته، خپل وصيتونه يې ورته وويل او د خزانو کونجي ګانې يې ورکړې او ټينګ قسمونه يې ورکړل، چې له دې زېرمو به ځينې نه پرانزې او بې له مهدي نور څوک پرې مه خبروه؛ خو چې مړ شوم، منصور ټينګار کړی و، چې تر مرګ روسته يې يوازې مهدي او ريطه (بې له دې چې دريم تن خبر شي) يو ځای زېرمې پرانزي، چې مهدي له ری څخه بغداد ته راستون شو، ريطه کونجي ګانې ورکړې او د زېرمو د پرانستو په اړه يې د منصور سپارښتنې ورته وويلې، چې منصور ومړ او مهدي خليفه شو.

د خپلې مېرمنې په ملتيا يې د يوې زېرمې ورپرانست، ويې ليدل، چې په يوه لويه خونه کې د طالبييونو مړي پراته دي او د هر يوه په غوږ کې يو رقعه ځوړنده ده، چې نسب يې پرې ليکل شوی دی، په مړيو کې، کوچنيان، ځوانان او يو

زيات شمېر بوډاگان وو. مهدي چې دا منظره وليده په فکر کې ډوب ولاړ او امر يې وکړ، چې يوه کنده وباسئ او دوی پکې ښخ کړئ او وربانديې يې هتې جوړې کړې. وگورئ: تاريخ الطبري ٦: ٣٤٣ مخ.

٤٢) شيخ صدوق په "عيون اخبار الرضا" (٢: ١٠٠مخ) کې له يوه بوډا عبيدالله بزاز نيشابوري روايتوي: له حميد بن قحطبه طايي طوسي سره مې يوه معامله وه، ورغلم او چې له راتلو مې خبر شو، نو د سفر جامې مې بدلې کړې نه وې چې يې راوغوښتم، دا مهال د رمضان مياشت او ماسپښين د لمانځه وخت و، چې ورننوتم، په يوه کور کې مې وليد، چې وياله پکې روانه وه، تر سلام روسته کېناستم، لوټه او چلمچي يې راووړل او خپل لاسونه يې ومينځل، بيا يې ماته وويل، چې لاسونه دې پرېمينځه، دسترخوان وغوړول شو، له ياده مې وتلي و، چې د رمضان مياشت ده او زه هم روژه يم، بيا مې رایاد شو، چې روژه يم، نو له دسترخوانه پاڅېدم، حميد راته وويل: ولې يې نه

خورې؟ ومې ویل: امیره، د رمضان میاشت ده او زه ناروغ
نه یم او هغه پلمه هم نه لرم، چې روژه پرې ماته کم، ښایي
امیر به د روژې ماتو لپاره کوم دلیل لري؟ په ځواب کې
یې وویل: زه روغ رمټ یم او روژې ماتولو ته هم کوم
دلیل نه لرم، بیا یې وژړل. تر خوړو روسته مې ورته وویل:
ولې دې وژړل؟ ویې ویل: چې هارون الرشید په طوس
کې و، یوه شپه یې څوک راولېږه، چې امیر دې غواړي،
چې ورغلم، سر یې ښکته نیولی و او شمع ورته بله او لغړه
توره یې په مخ کې و او یو خادم یې هم هلته ولاړ و، چې
ودرېدم، سر یې راپورته کړ او ویې ویل: تر کومه بریده د
امیر المؤمنین منې؟ ومې ویل: په مال و ځان یې اطاعت
کوم، کور ته د ستنېدو اجازه یې راکړه، څه وخت تېر نه و،
چې بیا یې یو تن راولېږه، چې د امیر درسره کار دی. له
ځان سره مې وویل: خدای ته پناه وړم، ډارېږم، چې وژني
مې او چې یې ولیدم حیا یې وکړه، بیاورغلم او چې ورته
ودرېدم، ویې پوښتل: تر کومه بریده د امیر اطاعت کوې؟

ومې ویل: په ځان، مال، مېرمن، اولادونو مې، په موسکا شو، او د بېرته ستنېدو اجازه یې راکړه، چې کور ته ننوتم، بې درنگه یې یو تن راولېږه، چې امیر دې غواړي، ورغلم او د مخکېني حال په څېر وه، سر یې راپورته کړ او ویې ویل: تر کومه بریده د امیر المؤمنین منې؟ ومې ویل: د ځان، مال، مېرمن او تر خپله دینه، ویې خندل او راته یې وویل: دا توره واخله او چې خادم درته هر څه وایي، وې کړه، خادم توره راواخسته او را یې کړه او زه یې یو قلف کور ته بوتلم، قلف یې پرانست، ومې لیدل، چې د کور په منځ کې یوه څاه او درې قلف کوټې دي، د یوې یې ورپرانست. شل تنه زاړه او ځوانان پکې په ځنځیرونو تړلي پراته وو. خادم وویل: امیر المؤمنین امر کړی، چې ټول به وژنې او ټول علویان وو، یو یو یې راته راووست او د ټولو مې سرونه غوڅ کړل او خادم سرونه په څاه کې وغورځول. دویمه کوټه یې پرانسته، شل تنه د علي او فاطمې اولاده په ځنځیرونو تړلي پکې پراته وو، ویې ویل:

امیر المؤمنین امر کړی چې ټول ووژنه، په ټولو مې سرونه پرې کړل او خادم په څاه کې وغورځول. درېیمه کوټه یې پرانسته او شل تنه د علي او فاطمې اولاده پکې په ځنیځرونو تړلي پراته وو، راته یې وویل: امیر هم د دوی د وژنې امر کړی دی، یو یو یې راوسته او سر مې ترې پرې کاوه، چې نولس تنه پوره شو؛ نو شلم یو بوډا و، چې راته یې وویل: "له کتابه عربي......!!!!!

بې خبره! پر سر دې خاورې شه، چې د قیامت پر ورځ مې نیکه رسول اکرم ته ورشې؛ نو څه به ورته لرې، حال داچې د علي او فاطمې د اولادونو شپېته تنه دې ووژل!!

لاس مې ولړزید او غړي مې سست شول، خادم راباندې غوسه شو او د ده د وژنې ته یې راوهڅولم، ورغلم او هغه مې هم وواژه او خادم په څاه کې وغورځاوه. نو ما چې دغسې گناه کړې او د پېغمبر شپېته تنه اولاده مې وژلې؟ نو لمونځ او روژه مې څه پر درد خوري بې شکه، چې تل به دوزخي یم.

٤٣) ابو الفرج اصفهاني (مقاتل الطالبين: ۳۹۵ مخ) وايي: متوکل د ابي طالب له اولادې سره سخته کينه درلوده؛ نو ځکه توند ورسره چلېده او په يوه پلمه به يې تورناوه او له منځه به يې وړل. عبيدالله بن يحيى بن خاقان د متوکل وزير و، چې د آل ابی طالب په اړه يې بد نظر درلود، نو ځکه يې د دې کورنۍ په باب د متوکل ټولې ناوړه کړنې ښې ګڼلې؛ نو له همدې امله، د متوکل په زمانه کې چې اهل بيت څومره ځورول شوي، مخکې ترې نه وو ځورول شوي. يو جنايت يې دا دی، چې د امام حسين قبر يې ويجاړ او اثار يې له منځه يووړل او ټولې هغه لارې يې په وسلوالو بندې کړې، چې قبر ته يې ورتلې او که زايران به يې ونيول؛ نو متوکل ته يې بوتلل؛ نو يا به يې واژه او يا به يې د بدن کوم غړی ورخخه پرې کاوه.
ابن خلدون (تاريخ ۳: ۲۷۹ مخ) د متوکل په باب ليکي: متوکل په لومړي پړاو کې خپل زوی منتصر ځايناستی کړ؛ خو روسته پښېمانه شو او کينه يې ورسره پيدا شوه؛ ځکه

خیال یې کاوه، چې منتصر غواړي، ویې وژني، چې ژر خلیفه شي؛ نو ځکه کله یې ورته منتصر او کله ورته مستعجل وایه.

بلخوا منتصر، د علي (ک) په باب د خپل پلار پر دریځ او چلن نیوکه درلوده او چې پلار به یې خپل ملګري راټولول او د علي (ک) بد به یې ویل؛ نو دوی به یې ګواښل او پلار ته یې ویل: علي (ک) د بني څو حشروی او که ته ورسره کینه لرې او بد یې وایې، نو په خپله دا کار کوه، او دې نورو پستو او رذالو ته لار مه پرانېزه؛ نو ځکه متوکل، منتصر په باب بې پروا و او خپل وزیر عبیدالله ته یې وویل، چې ته هم ورسره بې پروا چلېږه او په ځلو یې په وژنې او د ځایناستۍ په لرې کولو وګواښه.

٤٤) په نبوي روایاتو کې دولس ګوني امام.

امامان این امت دوازه نفر نه، له ګستره کتاب و سنت نه ټول راواخستل شي.

پای